د افغانستان اسلامي امارت
د اقتصادي چارو کمېسيون

د افغانستان اسلامي امارت
د اقتصادي چارو کمېسيون
(۷) مه مصوبه
د ۱۴۴۴هـ.ق کال د رجب المرجب ۲۷مه
د ۱۴۰۱هـ.ش کال د سلواغې ۲۹مه

د اقتصادي کمېسيون د ۱۴۴۴ هـ.ق کال اوومه غونډه، شنبه د رجب المرجب ۲۷مه (د ۱۴۰۱ هـ.ش کال د سلواغې ۲۹ مه) له غرمې مخکې پر(۱۰:۰۰) بجو په مرمرينه ماڼۍ کې د عظيم‌الشان قرآن د مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل شوه. غونډې د رياست الوزراء د اقتصادي مرستيال او اقتصادي کمېسيون رئيس محترم الحاج ملا عبدالغني برادر آخند په مشرۍ دوام وکړ.

په غونډه کې له هر اړخيزو بحثونو وروسته، لاندې پرېکړې وشوې:

**لومړی موضوع:** د ا.ا.ا د کابينې د (۱۴۴۳/۵/۳۰) نېټې د (۱۷) مې ګڼې مصوبې د څلورمې پرېکړې د تحقق په موخه د لويو قراردادونو د مشرتابه پلاوي د کليو بيارغونې او پراختيا، اوبو او انرژۍ، ټولګټو چارو وزارتونو، ملي پراختيا شرکت او د افغانستان برېښنا شرکت لوي قراردادونه بيا کتلي او د خپلو کړنو رپوټ يې د تائيد لپاره اقتصادي کمېسيون ته رالېږلی دی.

| | پرېکړه | تطبيق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۱ | د ا.ا.ا د کابينې د ۱۴۴۳/۵/۳۰ د ۱۷ مې مصوبې د څلورمې پرېکړې پر بنـاء، د لويـو قراردادونـو مشـرتابه پـلاوي لخـوا د څېړل شـويو قراردادونو اړوند د کارونو د پرمختګ د سلنې له مخې د لومړيتوبونو د ټاکلو په موخـه، د کليو بيارغونې او پراختيـا، اوبـو او انرژۍ، ټولګټو وزارتونـو، ملي پراختيـا شـرکت او د افغانسـتان برېښـنا شـرکت د قراردادونـو د مونډنو د بيا کتنې په موخه دې د اقتصادي معاونيت، ماليې، اقتصاد، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارتونو څخه يو ګډ پلاوی جوړ شي او پر يادو پروژو دې د کار د پرمختګ د سلنې له مخې بيا کتنه وکړي او خپل رپوټ دې اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي. | اقتصادي معاونيت او ګمارل شوي پلاوي | دوه مياشتې |

**دويمه موضوع:** د آريانا افغان هوايي شرکت د ناس د ګراونډ هينډلنګ شرکت د قضيې اړوند د نړيوالې محکمې (ICC) د پرېکړې په اړه خپل نظريات او غوښتنې اقتصادي کمېسيون ته د بحث لپاره رالېږلې دي.

| | پرېکړه | تطبيق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۲ | د آريانا افغان هوايي شرکت د ناس ګرونډ هينډلنګ شرکت د قضيې اړوند د کابينې لخوا ګمارل شوی هيئت دې خپلې چارې مخته بوزي. د تجهيزاتو د فيسونو او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه دې د ټرانسپورټ او هوايي چلند او ماليې وزارتونو او آريانا افغان هوايي شرکت مشران د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت ته دعوت شي او د موضوع اړوند دې مشورې او بحثونه تر سره شي. | اقتصادي معاونيت، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت، آريانا افغان هوايي شرکت، د کابينې لخوا ګمارل شوی هيئت | شل ورځې |

د افغانستان اسلامي امارت
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan

**دریمه موضوع:** د اقتصادي ځانګرو زونونو د جوړولو په اړه د صنعت او سوداګرۍ وزارت وړاندیز وروستی طرحه.

| | پریکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۳ | د صنعت او سوداګرۍ وزارت لخوا د اقتصادي ځانګړو زونونه چمتو شوې طرح په اصل کې تائید ده. د تخنیکي کمېټې د دې نظر مطابق چې «د صنعت او سوداګرۍ وزارت دې مؤظف کړای شي، هغه بورډ چې د ځانګړو اقتصادي زونونو د قانون په مسوده کې یې وړاندوینه شوې ده، ژر تر ژره فعال کړي چې د دغو زونونو د جوړولو ټولې چارې مخ ته یوسي.» د صنعت او سوداګرۍ وزارت دې د ذکر شوي بورډ سره په همغږۍ د اړوندو ادارو سره خپلې چارې ګړندۍ کړي.<br>د اقتصادي ځانګړو زونونو د طرحې د تطبیق لپاره دې اړوند تأسیسات د دفاع وزارت لخوا د یو پلان له مخې په تدریجي ډول د صنعت او سوداګرۍ وزارت ته انتقال شي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت دې یاده چاره په امتحاني ډول له کابل او بلخ ولایتونو څخه پیل کړي.<br>د صنعت او سوداګرۍ وزارت سره په همغږۍ، په اړوندو ځانګړو اقتصادي زونونو کې د دروازو او د زونونو داخلي امنیت دې د کورنیو چارو وزارت او د یادو زونونو له محوطو څخه بهر سیمې دې د دفاع وزارت لخوا وساتل شي. | د صنعت او سوداګرۍ، ملي دفاع، کورنیو چارو وزارتونه او ټولې اړونده ادارې | دوه میاشتې |

**څلورمه موضوع:** د اوبو او انرژۍ وزارت د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۳/۱۱/۲۳ نېټې (۱۳) مې ګڼې مصوبې پر بنسټ د شاه او عروس بند د پاتې کارونو د مهال وېش او پاتې پیسو د اجرا غوښتنه کړې ده.

| | پریکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۴ | د کابل ولایت د شاه او عروس د بند د موضوع د لا ښه حل په موخه دې له مالیې، اوبو او انرژۍ، بهرنیو چارو وزارتونو او د افغانستان بانک څخه د تخنیکي کسانو په ملتیا یوه کمېټه جوړه او د یادې موضوع تخنیکي او مالي اړخونه دې وڅېړي او خپل ګزارش دې د وروستي تصمیم لپاره، اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.<br>که کومه ستونزه نه پېښېدله، د مالیې وزارت دې د قراردادي شرکت له انوایسونو څخه د تضمین پیسې د دولت حساب ته انتقال کړي او یادې پیسې دې د شرکت په تضمین کې حساب شي.<br>د مالیې وزارت دې د یادې پروژې د تمویل لپاره د راتلونکي ۱۴۰۲ هـ ش مالي کال په بودجه کې پیسې په نظر کې ونیسي. | مؤظفه کمېټه | یوه میاشت |

دافغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت
د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan

**پنځمه موضوع:** د (Asia Ridgers Foundation Investment Group Co., Limited) په نوم یو چیني شرکت په دوو لویو پروژو (د چین، افغانستان او پاکستان ترمنځ د اوسپنې پټلۍ او له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان ته د ګاز د انتقال پروژه) کې د پانګونې لپاره لیوالتیا ښودلې، د مالیې وزارت یې وړاندیز اقتصادي کمېسیون ته د بحث لپاره رالېږلی دی.

| # | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۵ | ښه دا ده چې په افغانستان کې د پروژو د تمویل لپاره د افغانستان پر داخلي عوایدو تمرکز وشي. د اوسپنې پټلۍ او د برېښنا اړوند د پروژو د لومړیتوبونو د ټاکلو په موخه دې دوې جلا، جلا کمېټې جوړې شي.<br>د اوسپنې پټلۍ د پروژو لپاره، د اوسپنې پټلۍ اداري په سرپرستۍ له اقتصادي معاونیت او مالیې، اوبو او انرژۍ، کانونو او پټرولیم، اقتصاد، صنعت او سوداګرۍ وزارتونو څخه یوه بین الوزارتي کده کمېټه جوړه شي او د یادې کمېټې د غړیو شهرت دې د منظورۍ په موخه د ا.ا.ا کابینې ته وړاندې شي.<br>همدا راز، د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ له اقتصادي معاونیت او مالیې، کانونو او پټرولیم، اقتصاد، صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او ځاېړیال ساتنې ملي اداري څخه دې یوه بین الوزارتي کمېټه جوړه شي او د یادې کمېټې د غړیو شهرت دې هم د منظورۍ په موخه د ا.ا.ا کابینې ته وړاندې شي.<br>یادې کمېټې دې د اوسپنې پټلۍ او د برېښنا د تولید اړوند هغه پروژې مشخص کړي چې د افغانستان د داخلي عوایدو پر مټ یې ودانیزې چارې بشپړېدای شي. مؤظفې بین الوزارتي کمېټې دې تر جوړېدو وروسته، خپل ګزارشونه د وروستیو تصمیمونو په موخه په عاجله توګه اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.<br>د چارو د ښې همغږۍ په موخه دې اقتصادي معاونیت د اړوندو وزارتونو سره د موضوعاتو د تعقیب او تطبیق په موخه د معینانو په کچه سره کار وکړي.<br>د تخنیکي کمېټې د نظر د دې برخې چې «څه چې د پانګونې لپاره د دغو شرکتونو د لیوالتیا په اړه د مالیې وزارت په وړاندیز پورې اړه لري، اقتصادي معاونیت دې له اړوندو سکټوري وزارتونو سره دا وړاندیز په هراړخیزه توګه وڅېړي او ضروري پراوونه دې بشپړ کړي.» اجراآت وشي. | اقتصادي معاونیت، ټاکل شوې کمېټې | یوه اونۍ |

**شپږمه موضوع:** د نفرایتو د قراردادونو د رویالیټي په اړوند د کانونو او پټرولیم وزارت د وړاندیز په اړه د رياست الوزراء عالي مقام داسې هدایت کړی: وکتل شو! د اقتصادي چارو محترم کمېسیون ته: السلام علیکم،

یاد قراردادونه مطالعه کړئ که اړتیا مو محسوسه کړه؛ مناسب تخفیف ورته ورکړئ، د نهايي پرېکړې په موخه یې راسره شریک کړئ.

| # | پرېکړه | تطبیق کوونکی |
|---|---|---|
| | د نفرایتو د ورکړل شویو کانونو قراردادیان دې د کانونو او پټرولیم | د کانونو او پټرولیم وزارت |

د افغانستان اسلامي امارت
Islamic Emirate of Afghanistan
Economic Commission Secretariat

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۶ | وزارت لخوا را وغوښتل شي او ترې و دې غوښتل شي چې د یوې اونۍ په موده کې د قرارداد د شرایطو مطابق په ورکړو قیمتونو اړونده قراردادونه مخته بوزي؛ که چېرته د نفرایتو قراردادي شرکتونه د اړوندو قراردادونو تطبیق ته حاضر شول، خپل کار دې د قرارداد د شرایطو مطابق مخته بوزي او که چېرته د شویو قراردادونو د شرایطو مطابق کار ته حاضر نشول، قراردادونه یې دې فسخه او نوموړي شرکتونه او د شرکتونو رئیسان او سهمداران دې د محرومیت لیست ته واچول شي؛ داسې چې تر پنځه کلونو د کانونو په داوطلبیو کې اشتراک و نه شي کړای؛ که د محرومیت لیست ته د اچول شویو شرکتونو او سهمدارانو سره هر بل چا شراکت وکړ او پرې ثابت شوه، هغه به هم د محرومیت لیست ته اچول کېږي.<br>د قراردادونو د فسخې په صورت کې دې د کانونو او پټرولیم وزارت د نفرایتو یاد کانونه په لنډ وخت کې، له سره داوطلبی ته وړاندې کړي. | | |

**اوومه موضوع:** د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴ هـ.ق کال د دویمې غونډې په مصوبه کې د مالیې وزارت ته دنده سپارل شوې وه چې ټولې هغه سترې زیربنایي پروژې چې د کارونو ډېره برخه یې ترسره شوې ده او د بشپړېدا لپاره یې لږې بودجې ته اړتیا ده، تشخیص کړي او په دې اړه دې اقتصادي کمېسیون ته رپوټ وړاندې کړي. د دغې پرېکړې د تحقق په موخه د مالیې وزارت رپوټ برابر کړی او اقتصادي کمېسیون ته یې رالېږلی دی.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۷ | د مالیې وزارت لخوا ۱۱ تحلیل شوې پروژې تائید دي. د مالیې وزارت دې په راتلونکي ۱۴۰۲ هـ.ش مالي کال کې د مشخص شویو ۱۱ پروژو اړوند په انکشافي بودجه کې پیسې په نظر کې ونیسي. | د مالیې وزارت | دري اونۍ |

**اتمه موضوع:** د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۳/۱۱/۱۳ نېټې (۱۱) مې ګڼې مصوبې د (۱) بند د تحقق په موخه د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت له بېلا بېلو شرکتونو سره ناستې ترسره کړې دي او په پایله کې یې په بار وړونکو موټرو کې د جي پي ایس سیستم لګولو لپاره د (B Smart) په نوم شرکت انتخاب کړی دی او غواړي په دې برخه کې له اړوندو ادارو سره تخنیکي ناستې ترسره کړي. له اقتصادي کمېسیون څخه یې اړوندو ادارو ته د موضوع استولو او د غونډو په جوړولو کې د همکارۍ غوښتنه کړې ده.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۸ | په ترانزیتي باروړونکو وسایطو کې د GPS سیستم د نصبولو موضوع دې د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت په مشرۍ د مالیې، کانونو او پټرولیم، صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او د چارو ادارې لوی ریاست څخه یو هیئت، د B Smart او افغان پست شرکتونو سره تر بحث لاندې ونیسي او خپل رپوټ دې د بعدي اجراآتو لپاره اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. | تاکل شوی هیئت | دري اونۍ |

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan

**نهمه موضوع:** د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴/۱/۱۲ هـ.ق نېټې د لومړۍ غونډې په مصوبه کې د صنعت او سوداګرۍ وزارت د سرپرست په مشرۍ د ښار جوړولو، اقتصاد، او مالیې وزارتونو، د چارو اداري لوی ریاست او د کابل ښاروالۍ ګډ پلاوي ته دنده سپارل شوې وه چې د مصطفی صادق عظیمي شرکت لخوا د کابل شهر نو پارک د جوړولو طرحه په دقیقه او هر اړخیزه توګه وڅېړي او خپل وړاندیزونه دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. یاد پلاوي د دې پرېکړې د تحقق په موخه ناستې ترسره کړې دي، د شرکت طرحه یې مطالعه کړې او په طرحه کې د ځینو تعدیلاتو له وړاندیزونو سره یې خپل ګزارش اقتصادي کمېسیون ته رالېږلی دی.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۹ | د مصطفی صادق عظیمي شرکت لخوا د کابل ښار د نوي ښار په پارک کې د پانګونې طرحه، د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ د ټاکل شوې کمېټې لخوا یو وار بیا د کابل ښاروالۍ او ښار او کور جوړولو وزارت له تائید شویو نظرونو سره اقتصادي کمېسیون ته وړاندې شي. | د صنعت او سوداګرۍ او ښار او کور جوړولو وزارتونه، کابل ښاروالي | یوه اونۍ |

**لسمه موضوع:** په غزني ولایت کې د دربیم پلان په ساحه کې له شنې ساحې څخه رهایشي او یا تجارتي ساحې ته د څلور جریبه او اوه بسوې ځمکې د تعدیل په اړه د استول شوي پلاوي رپوټ.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۱۰ | د غزني ولایت د دربیم پلان په ساحه کې له شنې ساحې څخه رهایشي او یا تجارتي ساحې ته د څلور جریبه او اوه بسوې ځمکې د تعدیل په اړه د ټاکل شوې هیئت رپوټ او وړاندیز تائید دي.<br>د غزني ولایت محترم مقام، د غزني ښاروالي او نورې اړونده ادارې دې د ځمکې خاوند ته په مناسبه ساحه کې د ورځې نرخ پر اساس د قیمت د تفاوت په نظر کې نیولو سره ځمکه توزیع کړي. | د غزني ولایت مقام او د یاد ولایت ښاروالي، اړونده مراجع | یوه میاشت |

د افغانستان اسلامي امارت
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan